**د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د ډیټابیس او معلوماتو د سیستم ریاست د کارکوونکو لپاره روزنیز ورکشاپ پیل شو**

یکشنبه د ۱۴۰۵ کال د غویي ۲۰ مه

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د ډیټابیس او معلوماتو د سیستم ریاست په نوي برېښنايي سیستم کې د محاسبې او تادیاتو په برخو کې د (۷۵) تنو مرکزي او ولایتي ریاستونو کارکوونکو لپاره لس (۱۰) ورځینی روزنیز ورکشاپ پیل کړ.

د دې ورکشاپ د پرانیستې په پروګرام کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني، د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان، د دفتر رئیس محترم مولوي شاه محمد دوست، یو شمېر نورو محترمو رئیسانو، آمرینو او اړوندو کارکوونکو حضور درلود.

محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مبارکو احادیثو په رڼا کې د مسئولیت او امانتدارۍ په اړه هر اړخیزه وینا وکړه او وې ویل چې په ټولو چارو کې باید د الله تعالی جل جلاله رضا په پام کې ونیول شي، ځکه همدا کار د دنیا او آخرت د نیکمرغۍ سبب ګرځي. هغه له کارکوونکو وغوښتل چې د غریبو، بېوزلو، یتیمانو، کونډو او معلولیت لرونکو کسانو لاسنیوی وکړي او خپلې دندې په بشپړ شفافیت، صداقت او امانتدارۍ سره ترسره کړي، د یتیمانو، کونډو او معلولیت لرونکو کسانو میاشتني نغدي مساعدتونه پر خپل وخت، پرته له هر ډول ځنډ او ځنډ ځخه، مستحقو کسانو ته حواله کړي، څو هغوی له ستونزو او کړاوونو سره مخ نه شي.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال زیاته کړه چې د شاوخوا اووه لکه یتیمانو، کونډو او معلولینو مسئولیت د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت پر غاړه دی او د ټولنې دغه اړمن قشر د وزارت له کارکوونکو څخه د خدمت او همکارۍ هیله لري. نوموړي ټینګار وکړ چې اسلامي امارت یو سپېڅلی نظام دی او د دې نظام هر کارکوونکی باید خپلو دندو ته په پوره اخلاص، ژمنتیا او مسئولیت سره متوجه واوسي.

محترم شیخ صاحب همداراز کارکوونکو ته سپارښتنه وکړه چې خپل وخت بې ځایه ضایع نه کړي، د خپلو چارو د ښه ترسره کولو لپاره خپله پوهه او وړتیا لوړه کړي او د خلکو خدمت ته لومړیتوب ورکړي.

په دې ورکشاپ کې د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان د برېښنايي سیستم د ارزښت او اهمیت په اړه خبرې وکړې او ویې ویل چې تر دې وړاندې د یتیمانو، کونډو او معلولینو د ثبت بهیر په کاغذي بڼه ترسره کېده، چې له امله یې په چارو کې په پوره ډول شفافیت نه وو، د کارونو په ترسره کولو کې ځنډ او ځنډ موجود وو او په ادارو کې بېروکراسي هم زیاته وه.

نوموړي زیاته کړه چې د ډیټابیس او معلوماتو د سیستم ریاست د کارکوونکو د نه ستړي کېدونکو هڅو په پایله کې دغه سیستم په بریالیتوب سره فعاله شو، چې ورسره په چارو کې بشپړ شفافیت رامنځته شوی دی او نوی برېښنايي سیستم د کارونو د چټکتیا، دقت، د تکراري ثبتونو د مخنیوي او د ښې حکومتولۍ د پیاوړتیا لپاره اغېزمن ګام بلل کېږي.

همداراز د مالي او اداري چارو عمومي رئیس څرګنده کړه چې پخوا د تادیاتو پروسه هم په کاغذي بڼه ترسره کېده، خو اوس له نېکه مرغه دغه برخه په الکترونیکي بڼه بدله شوې ده، څو د مستحقو کسانو حقوق خوندي پاتې شي، نظارت په سمه او شفافه توګه ترسره شي او د هر ډول ځنډ او ځنډ مخه ونیول شي.

په دې ورکشاپ کې محترم مولوي محمد موسی صدیقي محاسبه او تأدیات د مالي چارو یوه مهمه او اساسي برخه وبلله او ویې ویل که چېرې دغه برخه په منظم او معیاري ډول فعاله وي او پکې ژمن، مسلکي او په کار پوه کسان وګمارل شي، نو مالي شفافیت به په ښه توګه تأمین شي.

نوموړي زیاته کړه چې د ټولنې د ډېر اړمن قشر، یعني یتیمانو، کونډو او معلولینو مسئولیت د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت پر غاړه دی او د مالي چارو منظم مدیریت پر متوکولای شو دغه مسئولیت په ښه او اغېزمن ډول ترسره کړو.

هغه همداراز وویل، که هر کارکوونکی د خپلې دندې لایحې مطابق خپل سپارل شوي مسئولیتونه په صداقت او امانتدارۍ سره ترسره کړي، نو اداري چارې به لا منظمې شي، واقعي مستحقین به له مرستو برخمن او په ټولو برخو کې به شفافیت رامنځته شي.

د دعوت او ارشاد رئیس محترم مفتي عبدالاحد مسعود د قرآن عظیم الشان د مبارکو آیاتونو او د نبوي صلی الله علیه وسلم د سپېڅلو احادیثو په رڼا کې د یتیمانو د حقوقو په اړه مفصله وینا وکړه او وې ویل چې د یتیمانو خدمت کول او د هغوی کفالت یو ستر عبادت دی، چې انسان د الله تعالی جل جلاله په نزد لوړو درجو ته رسوي او د آخرت د کامیابۍ سبب ګرځي .

هغه زیاته کړه چې د یتیمانو د حقوقو اداء کول یو درونډ مسؤلیت دی او هر مسلمان باید خپلې ذمه وارۍ په اخلاص او پوره ایماندارۍ سره ترسره کړي. وخت باید بې ځایه ضایع نه شي، ځکه چې الله تعالی جل جلاله له انسان څخه د هر وړوکي او لوی عمل حساب اخلي.

محترم مفتي فیصل خاموش په نوي برېښنايي سیستم کې د محاسبې او تادیاتو د برخو د فعالېدو پر اهمیت او ګټو خبرې وکړې او ویې ویل د یادو برخو له فعالېدو سره به په چارو کې د وخت سپما رامنځته شي د جعل او تزویر مخ نیوی به وشي او د یتیمانو، کونډو او معلولینو معلومات په خوندي ډول وساتل شي.

هغه همداراز وویل چې نوی برېښنايي سيستم د بودجې د بې ځایه مصرف د مخنيوي، د مالي شفافيت د پیاوړتیا او د اداري چارو د معیاري کېدو په برخه کې مهم رول لري او دا چاره د وزارت له مهمو او عمده لاسته راوړنو څخه شمېرل کېږي.

---------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------

**به (۷۵) تن از کارمندان ریاست دیتابیس و سیستم معلوماتی وزارت امور شهداء و معلولین ورکشاپ آموزشی آغاز گردید**

یکشنبه ۲۰ ثور ۱۴۰۵

ریاست دیتابیس و سیستم معلوماتی وزارت امور شهداء و معلولین، ورکشاپ آموزشی ده (۱۰) روزه را در بخش محاسبه و تأدیات در سیستم جدید الکترونیکی برای (۷۵) تن کارمندان ریاست‌های مرکزی و ولایتی آغاز کردند .

در برنامه افتتاحیه این ورکشاپ، محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقانی معین وزارت امور شهداء و معلولین، محترم مولوي کلیم الله افغان رئیس عمومي مالی و اداری، محترم مولوی شاه محمد دوست رئیس دفتر مقام وزارت، رؤسای محترم، آمرین و کارمندان بخش های مربوطه حضور داشتند.

محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني در پرتو احادیث مبارک نبی کریم صلی الله علیه وسلم، پیرامون مسئولیت و امانتداری صحبت مفصل ارایه نموده افزود: که در تمامی امور باید رضایت الله تعالی جل جلاله در نظر گرفته شود، زیرا همین کار سبب کامیابی و خوشبختی در دنیا و آخرت می‌گردد. وی از کارمندان خواست تا از فقراء، نیازمندان، ایتام، خانم های بیوه و افراد دارای معلولیت حمایت کنند و وظایف خویش را با شفافیت کامل، صداقت و امانتداری انجام دهند و کمک‌های نقدی ماهانه ایتام، خانم های بیوه و افراد دارای معلولیت باید به موقع و بدون هرگونه مانع و تأخیر به مستحقین پرداخت شود، تا آنان با مشکلات و دشواری ها مواجه نگردند.

موصوف افزود که مسئولیت رسیدگی به حدود (۷۰۰) هزار یتیم، بیوه و معلول بر عهده وزارت امور شهداء و معلولین است و این قشر نیازمند جامعه، چشم انتظار خدمت و همکاری کارمندان این وزارت می‌باشند.

محترم شیخ صاحب تأکید کرد که امارت اسلامی یک نظام کاملاً اسلامی است و هر کارمند این نظام باید وظایف خود را با اخلاص، تعهد و احساس مسئولیت کامل انجام دهد، وقت خویش را بیهوده ضایع نکنند، برای انجام بهتر امور، دانش و مهارت های خویش را ارتقاء دهند و خدمت به مردم را در اولویت قرار دهند.

محترم مولوی کلیم الله افغان پیرامون ارزش و اهمیت سیستم جدید الکترونیکی صحبت کرده و گفت که پیش از این، روند ثبت ایتام، خانم های بیوه و معلولین به شکل ابتدایی انجام می‌شد که به همین دلیل شفافیت در امور کمتر بود، در انجام کارها موانع و تأخیر وجود داشت و بوروکراسی اداری نیز افزایش یافته بود.

موصوف افزود که در نتیجه تلاش‌های خستگی‌ناپذیر کارمندان ریاست دیتابیس و سیستم معلوماتی، این سیستم با موفقیت فعال گردید و با راه‌اندازی آن، شفافیت کامل در امور به وجود آمده است و سیستم جدید الکترونیکی، گامی مؤثر در راستای تسریع امور، افزایش دقت، جلوگیری از ثبت های تکراری و تقویت حکومتداری خوب به شمار می‌رود.

محترم مولوی کلیم‌الله افغان همچنان تصریح کرد که در گذشته روند پرداخت مساعدت های نقدی ماهانه به ایتام، خانم های بیوه و معلولین نیز به شکل ابتدایی انجام می‌شد، اما اکنون خوشبختانه این بخش به سیستم الکترونیکی تبدیل شده است تا حقوق افراد مستحق محفوظ بماند، نظارت به‌گونه درست و شفاف صورت گیرد و از هرگونه مانع و تأخیر در پرداخت مساعدت های نقدی ماهانه به ایتام، خانم های بیوه و معلولین جلوگیری شود.

در ادامه محترم مولوی محمد موسی صدیقي بخش محاسبه و تأدیات را یکی از مهم‌ترین و اساسی‌ترین بخش‌های حسابداری مالی دانسته و گفت که اگر این بخش به‌گونه منظم و معیاری فعال باشد و در آن افراد متعهد، مسلکی و آگاه به کار گماشته شوند، شفافیت مالی به خوبی تأمین خواهد شد.

وی افزود که مسئولیت رسیدگی به قشر بسیار نیازمند جامعه، یعنی یتیمان، خانم های بیوه و معلولین، بر عهده وزارت امور شهداء و معلولین می‌باشد و با مدیریت منظم امور مالی می‌توانیم این مسئولیت را به‌گونه بهتر و مؤثر انجام دهیم.

همچنان محترم مولوی محمد موسی صدیقی گفت که اگر هر کارمند مطابق لایحه وظایف خویش مسئولیت‌های سپرده‌شده را با صداقت و امانتداری انجام دهد، امور اداری منظم‌تر خواهد شد، مستحقین واقعی از کمک‌ها بهره‌مند می‌شوند و در تمام بخش‌ها شفافیت به وجود خواهد آمد.

در تداوم این ورکشاپ محترم مفتی عبدالاحد مسعود رئیس دعوت و ارشاد در پرتو آیات مبارک قرآن عظیم الشأن و احادیث نبوی صلی‌الله‌علیه‌وسلم، درباره حقوق یتیمان سخنرانی نموده و بیان داشت که خدمت به ایتام و کفالت آنان یک عبادت بزرگ است که انسان را در نزد الله تعالی جل جلاله به درجات بلند می‌رساند و سبب کامیابی در آخرت می‌گردد .

موصوف افزود که ادای حقوق ایتام یک مسئولیت سنگین است و هر مسلمان باید وظایف خود را با اخلاص و صداقت کامل انجام دهد. وقت نباید به بیهودگی سپری شود، زیرا الله تعالی جل جلاله از انسان در مورد تمام اعمال کوچک و بزرگ حساب می گیرد.

محترم مفتی فیصل خاموش در مورد اهمیت بخش محاسبه و تأدیات در سیستم جدید الکترونیکی صحبت کرده و گفت که فعال‌شدن این بخش می تواند، باعث تسریع روند کاری، جلوگیری از جعل و تزویر، مصؤنیت معلومات ایتام، خانم های بیوه و معلولین شود، همچنان در جلوگیری از مصرف بیجای بودجه، تقویت شفافیت مالی و معیاری‌ساختن امور اداری نیز نقش مهمی دارد و این اقدام، یکی از دستاوردهای مهم و اساسی وزارت محسوب می‌شود.